ليکوال: د ودان افغانستان گوند نېټه ۱۲-۱۱-۲۰۱۰

بسم الله الرحمن الرحیم

# ودان افغانستان گوند (واگ)

## خبرتیا

دافغانستان له روانوترخواوغمجنوشرايطوڅخه هرځورېدلي او اندېښمن هېوادوال ته په درناوي خبرورکوو، چې د «ودان افغانستان گوند» غړيو په هېواد کې د روان بحران پروړاندې دهڅودچټکتيا اراده کړې ده. په دغه بهيرکې له تاسي څخه دهراړخيزې سلامشورې هيله کوو.
تاسي خبرياست چې په افغانستان کې څه تېرېږي؟ ځکه خونه غواړو، چې موږ، دسقوط کندې ته دهېواد له ورلويدو څخه، تاسوته خبر درکړو، خودا چې موږ ددغه خطر پروړاندې څه کول غواړو، دادی تاسي پرې خبروو:
تراوسه چې له هرخوا خوړې سره دهېواد پربده ورځ غړېدلي يو، همدا راته ويل شوي چې اوښکې بهول گټه نه لري. دژغورنې لپاره يې ملا وتړئ !

دادی موږ، داڅوکاله انتظار وويست چې کېدای شي له دومره سياسي کړيو به يوداسي پياوړی سياسي ځواک رامنځته شي چې هېواد له دغه تراژيدي پړاوه وباسي. له بده مرغه ډېره موده ووته خو تراوسه له داسي ژغورنده باوري ځواکه بې برخې يو. همدغې نيمگړتيا مجبورکړو، چې دغه درانه پېټي ته اوږه ورکړو او دهېوادژغورنې دغه سپېڅلی ارمان ترسره کړو.
په خواشينی سره بايد ووايوچې دامهال په هېواد کې څه له پاسه يوسلودېرش بېځايه ډېرشوي سياسي جوړښتونه ليدل کېږي. دشمېر دومره ډېروالي به دگوندو نامه ته ډېرتاوان وراړولای وي، خوبياهم دداسي يوه پياوړي گوند دشتوالي له اړتيا سترگې پټېدای نشي چې دگردو هېوادمينو ځواکو په ملاتردغه بحران پای ته ورسوي.
ودان افغانستان گوند دهمدغه ارمان لپاره منځته راغلی او لاندېنی ځانگړنې لري:
۱- داگوند دجگړې درولو، هېواد ژغورنې او دافغانستان له شرايطوسره سم، دېرمختگ يوه علمي - عملي سراسري تگلارلري، چې له پلي کېدلوسره به يې گردې رواني ناخوالي پای ته ورسېږي.
۲- دغه گوند د پاکلمني، هوډمن او روښانفکره ډله ييز مشرتابه پربنسټ منځته راغلی او همدايي دسياسي مبارزې پرلپسې اصل دی. دگوند غړي له هيڅ ډول پخوانيو گوندونو، سياسي ډلو او جوړښتونو او يا اوسمهالو واکمنو سره سياسي فکري تړون نه لري، بلکي ديوه ځوان او نوي فکري خوځون په بنه يې د افغان او افغانستان دژغورنې لپاره ملاتړلې ده.
۳- داگوند به دخپل سياسي ژوندانه په بهير کې وښيي چې واک ته درسيدو، پيسو گټلو، شهرت، قومي او سيمه ييزو گټولپاره نه، بلکې يوازې دافغانستان د دردېدليو پرگنو دښېگنو لپاره دخپلې علمي تگلارې دپلي کولوغوښتنه کوي.
۴- گوند به دچپ وښي افراط ترمنځ پر يوه درېيمه لار روان وي، چې دټولوهڅو په محراق کې به يې د«افغان انسان» اوافغانستان ښېگنه لومړنی ځای لري.
۵- دا گوند هڅه کوي افغان انسان دتوليدي شتمنی خاوندشي. دهېواد اقتصادي ظرفيت داضمانت ورکوي، چې هرافغان ته دښه ژونديوره شرايط چمتوکېدای شي. يوازې يوه ژمنه او پاکه اراده اواداره ديوې علمي ستراتيژۍ پربنسټ دا کارممکنولای شي.
۶- داگوند دټولو ځورېدليو، زړه سواندو او پاکلمنو روښانفکره اشخاصواو ځواکونو يووالي ته لارهواروي او دهمدغو ځانگړ تياوو او غوښتنوله مخې دغړيتوب شرايط ټاکي.
۷- گوند به سراسري وي، افغانستان شموله تشکيلات به لري او په هېوادکې دننه او ترهغه بهربه دگردووهېوادوالو دملاتړترلاسه کولولپاره هلېځلې کوي.
۸- دگوند فکري اډانه دا ده، چې دټولو، پرديو ورانوونکيو سياسي ايډيولوژيو او سياستلوبو په نفي کولوسره يوه داسي سراسري فکري بدلون ته لار پرانيزي، چې دافغان انسان گټې پکې نغښتې وي. د افغان انسان ژوند، کار، زده کړه، روغتيا او گرد سره اساسي بشري حقونه به دسياسي، اقتصادي او ټولنيزو هڅو په مرکز کې راولي. دا پروسه درې لوی پړاوونه لري:
۱- وينتيا ۲- روښانتيا ۳- بدلون
دويښتيا پړاو تريوه ځايه بشپړشوی دی. خلک دورځنې ژوندانه ناخوالو ته ځير دي او رواني بدمرغی او ورځنۍ ترخې شيبې هرلوري ته احساسېږي. ټولنه وينه شوې؛ غواړي له روان کړکېچه ووځي او ډاډه انساني ژوند ولري،


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينگه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليرلو مخکي په ځير و لولـئ

خو لاهم داسي يو ملي سياسي خوځښت نه دی رامنځ ته شوی، چې ټول ولس د ويښتيا له دې پړاوه د روښانتيا او بدلون پر لوري وروخوځولای شي.
د روښانتيا په پړاو کې به ګوند له ټولني سره په ګډه دروان ناورين فکري، اقتصادي او سياسي عوامل پلټي او دهغوی دله منځه وړلو لارې به تيوريزه کوي.
هاله چې ټولنه بشپړه ويښه او روښانه شي، پخپله به د واکمنو وروسته پاتې شرايطو دله منځه وړلو پرېکړه وکړي او دروښانه سراسري شعور په مرسته به نوي پرمختللي بدلون ته لارپرانيزي. ګوند به دخپلي سياسي تجربې او پوهې په رڼاکې ددغه بهير دچټکولو لپاره هره شيبه چمتواو دټولني دغوښتنواو ارادې ترشا ولاړوي.
ګوند دټولنيزو بښېګڼو په چوکاټ کې له شرايطوسره سم دسياسي مبارزې تاکتيک ټاکي او پر عدم تشدد ولاړې سوله ييزې، استدلالي او منطقي لارې، چارې ترنورغوره ګڼي. ګوند، ترهغې چې په اپوزېسين کې خپلي غوښتني پر واکمن نظام منلای شي؛ دولتي واک ته درسېدلو هيله او هڅه نکوي.

د « ودان افغانستان ګوند» دتګلارې ترڅنګ دګوند په استازيتوب د «درېيمه لار» ليکني هغه تيوريک توکي دي چې دګوند دفکري کرښوپه لاپيژندنه کې مرسته کوي.
ګوند ددې خبرتيا له خپرولو سره ټول ځوريدلي، زړه سواندي، پوه او ټولنيزوګټوته ژمن هېوادوال له خپلي پرېکړې خبروي او غواړي وپوهېږي چې تاسې درانه په دې اړه څه واياست او په دغه بهير کې څه ډول رغنده برخه اخيستلای شئ؟
موږ به ډېر خوښ شو او به وياړوچې په دې اړه ستاسې نظر ترلاسه کړواوغږ مو واورو.
که ستاسو نظرمنفي هم وي، موږته ارزښت لري ځکه چې موږ به لا دخپل فکرژورولوته اړکړي. خوهيله ده چې دمنفي نظرترڅنګ داهم راڅرګنده کړئ ، چې له دې پرته بله چاره څه کېدای شي او څنګه په ګډه له دغه اوره ژغورل کېدای او له انساني ژوندانه برخمنېدای شو؟

دودان افغانستان په سپېڅلي ارمان
ودان افغانستان ګوند
فرهنګي څانګه

**يادونه:**
هيله ده خپل نظر، نيوکه، پوښتنه او سپارښتنه په دې بريښنا پته راغبرګه کړئ:

Wadan.party@gmail.com

*********

بسم الله الرحمن الرحيم

## اطلاعيه

### حزب ودان افغانستان (واګ)

با درنظرداشتن شرايط تلخ و ناګوار جاری درافغانستان به آګاهی هرهموطن درد ديده و رسالتمند رسانيده ميشود که اعضای (حزب ودان افغانستان) با درنظر داشت بحران جاری درکشور اراده تسريع فعاليتهای خويش را نموده اند، فلهذا آرزومند مشوره های همه جانبهٔ شما در اين زمينه ميباشيم.

شما مطلع هستيد که در کشور چه ميګزرد؟ از اينرو نمی خواهيم که، يک بار ديګر زنګ خطر سقوط کشور را به شما اعلام نماييم ، واما اينکه ما در مقابل خطر موجوده چی ميخواهيم بکنيم، اينک شما را از آن واقف ميسازيم.

تا الحال با هرفرد دلسوز ورسالتمند که درمورد وضع بحرانی کشور صحبت نموده ايم برای ما ګفته اند، که تنها با اشک ريختن نمی توان به جايی رسيد، برای نجاتش کمر همت ببنديد.

ما چند ين سال انتظارکشيديم، تا ممکن از اين حلقات سياسی يک قوهٔ موثر بوجود خواهد آمد، که کشور را از اين مرحله تراژيدی نجات بدهد. بدبختانه زمان مديدی ګذشت اما تا هنوز هم از موجوديت اين قوهٔ نجات دهنده و با اعتماد بی بهره ميباشيم. بناً احساس همين کمبود ما را مجبور به شانه دادن به اين بارسنګين، جهت تحقق ارمان مقدس ما برای نجات کشور، ګردانيد.


افغان جرمن آنلاين په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ

همه میدانند، که فعلاً بیشتر از یکصدوسی ساختار بجا و بیجای سیاسی دیده میشود، که الحق این تعدد مضحک بیشتر به اعتماد و اسم ورسم احزاب صدمه رسانیده است، اما بازهم نمی توان ازضرورت موجودیت یک حزب مقتدر چشم پوشید تا بتواند با حمایت وطن دوستان این بحران را به پایان برساند.

حزب ودان افغانستان برای همین ارمان بمیان آمده، که ویژه گیهای ذیل را دارد:

۱- این حزب برای نجات کشور، توقف جنگ و برای پیشرفت یک برنامه علمی و عملی و متناسب با شرایط افغانستان دارد، که با عملی نمودن آن تمام مشکلات جاری خاتمه خواهد یافت.

۲- این حزب براساس طرز رهبری گروهی روشنفکر، با اراده و منزه بمیان آمده است و بر اساس همین اصل مبارزه سیاسی مداوم مینماید. این حزب با احزاب و گروه های سیاسی سابق و یا حاکمان فعلی هیچ نوع تعهد فکری سیاسی ندارد، بلکه بشکل یک جنبش فکری جدید و جوان برای نجات افغان وافغانستان کمر بسته است.
۳- این حزب در سیر زندگی سیاسی خویش نشان خواهد داد که برای رسیدن به قدرت، بدست آوردن پول، شهرت، مفاد قومی و منطقوی نه بلکه صرف برای خوشبختی مردم درددیدهٔ افغانسان تقاضای عملی نمودن برنامه علمی خویش را مینماید.
۴- حزب از میان افراط چپ و افراط راست، براه میانه ملی حرکت خواهد کرد، که در محراق تمام تلاش های آن خوشبختی (انسان افغان) و خوشبختی افغانستان در اولویت قرار خواهد داشت.
۵- این حزب تلاش می ورزد تا انسان افغان صاحب ملکیت تولیدی گردد، ظرفیت اقتصادی کشور ضامن اینست، که برای هر افغان شرایط بهتر زندگی را مهیا سازد، صرف یک اداره و اراده سالم همرا با یک ستراتیژی علمی این کار را ممکن ساخته میتواند.

۶- حزب امکان را برای همبستگی تمام اقشارو افراد درد دیده، دلسوز و روشنفکران صادق فراهم نموده و شرایط عضویت را هم به اساس همین معیارتعین مینماید.

۷- حزب سراسری بوده، دارای تشکیلات افغانستانشمول خواهد بود و تلاش بخرچ میدهد تا حمایت تمام هموطنان را در داخل و خارج کشوربدست آورد.

۸- ماهیت و ساختارفکری حزب این است که، با نفی ساختن تمام ایدیالوژی ها و بازیهای سیاسی خرابکارانهٔ اجانب، راه را به یک تغییرفکری سراسری فراهم سازد تا منافع افغانها در آن اولویت داشته باشد. برای افغانها حق زندگی، کار، تعلیم، صحت، و تمام حقوق اساسی بشری را تامین نموده بتواند و این همه را درمحراق تلاش های سیاسی، اقتصادی و اجتماعی خود بیاورد، این پروسه سه مرحله بزرگ را دربرمیگیرد.
۱
۱- بیدارگری ۲- روشنگری ۳- تحول
مرحلهٔ بیدارگری تا یک حدی تکمیل گردیده. مردم متوجه مشکلات روزمره زندگی خویش شده اند، بدختی ها و نا هنجاری های روزمره در هر لحظهٔ زند گی حس میشود. مردم جامعه بیدارگردیده، و میخواهند تا از بحران جاری رهایی یافته و زندگی مطمین انسانی داشته باشند، اما با آنهم تا هنوز یک جهش سیاسی ملی به وجود نیامده است، تا تمام ملت را ازمرحلهٔ بیداری به مرحلهٔ روشنگری و تحول رهبری کند.
درمرحلهٔ روشنگری، حزب به همکاری تمام ملت عوامل فکری، اقتصادی و سیاسی بحران جاری را ارزیابی نموده تا راه ازبین بردن آنرا تیوریزه کند.

وقتیکه جامعه کاملاً بیدار وآگاه گردد، خود فیصلهٔ ازبین بردن عقب مانی حاکمان را خواهد نمود و به کمک روشنگری شعور سراسری زمینه را برای تحول پیشرفته فراهم مینماید. حزب در روشنی دانش و تجربهٔ سیاسی خویش جهت تسریع این پروسه هرلحظه آماده و با اساس خواست ها و ارادهٔ جامعه درپشتیبانی ملت قرار میگیرد.

حزب درچوکات منافع اجتماعی با درنظرداشت شرایط، تکتیکهای مبارزه خویش را تعین نموده، و بر اساس مبارزه بدون تشدد، راه های منطقی و استدلالی صلح آمیزرا نسبت به راه های دیگر بهتر میشمارد.
حزب، تا زمانیکه درموقف اپوزیسون خواست های خویش را بالای نظام برسراقتدار قبولانده میتواند، آرزومندی و کوشش به قدرت رسیدن را نخواهد کرد.

(حزب ودان افغانستان) درپهلوی اساسنامهٔ حزب، به نمایندگی حزب سلسله نبشته های راه سوم (دریمه لار) رساله تیوریکی را میتواند بشما ارسال نماید، که شما را در شناخت راه های فکری حزب کمک خواهد کرد.


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکارئ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکنې د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

حزب با نشر این اطلاعیه تمام هموطنان رنجدیده، دلسوز، آگاه و متعهد به منافع ملی را از فیصله خویش آگاه نموده و خواهشمند است بداند، که شما دراین رابطه چه نظری داشته و هم علاوه نمائید که شما در این حصه چه رول ارزنده ای خواهید داشت.

مابسیار سپاسگزار خواهیم بود و افتخار خواهیم کرد تا دراین زمینه نظر شما را بدست بیاوریم و یا پیغام (صدای) شما را بشنویم.

اگر نظر شما منفی هم باشد برای ما بسیار ارزشمند است زیرا ما را به تفکر و تعمق بیشتروا میدارد. اما امیدواریم دراین صورت (نظرمنفی) اینرا نیزبرای ما خاطر نشان سازید که غیر از این راه و چاره چه شده میتواند و چگونه یکجا میتوانیم از این آتش رهایی یافته صاحب یک زندگی انسانی شویم.

به ارمان والای افغانستان آباد (ودان افغانستان)
حزب ودان افغانستان
بخش فرهنگی

**یاداشت:**
**امید داریم نظر، انتقاد، سوال و سفارش تانرا به ادرس برقی (ایمیل آدرس) ما ارسال دارید.**
Wadan.party@gmail.com